پوهاند دودیال ۲۰۲۳/۰۸/۱۵

# افغانستان او د نفوسو په چارو کې د ملګرو ملتونو صندوق

## (په افغانستان کې د وګړشمیرنې د مقالو پنځمه برخه)



**سریزه**

افغانستان د ملګرو ملتونو له لومړنیو غړو هیوادو څخه دی. د دغه سازمان ډیرو موسساتو لکه د نورو هیوادو په شان؛ افغانستان کې هم دفترونه لرل او خپلې دندې یې پر مخ وړي دي چې افغانان ورڅخه خوښ دي. د ملګرو ملتونو(م.م.) د سازمان په اوو ارکانو کې یو ډیر مهم یې اقتصادی او اجتماعی شورا ده چې وروسته تر لویې غونډې او د امنیت شورا څخه اوچت اهمیت لري. همدې شورا پورې اړوند، یو ډېر مهم صندوق دنفوسو نړیوال صندوق( UNFPA) دی. د دې صندوق کار له نفوسو او پرمختیا سره دی. دغه صندوق په دې اړوند کنفرانسونه دایر کړي چې، یو ډېر مهم کنفرانس یې په ۱۹۹۴م. کې د مصر په قاهره کې و چې د نفوسو او پرمختیا برخه کې یې یوه برنامه تصویب کړه ، دغه ډول برنامې اوس هم دوام لري. په دې کې یو هم د وګړشمېرنو د پروګرامونو سره مرسته ده. وګړ شمېرنه ( census) د یوه هیواد یوه لویه ملی پروسه وي. وګړشمیرنه د همدې صندوق په مالی او تخنیکی مرسته ترسره کیږي .د افغانستان لومړنی بشپړه وګړشمیرنه(۱۹۷۹=۱۳۵۸ل. کې) هم د همدې صندوق په مرسته و شوه.

### د (UNFPA ) لنډه پېژندنه:

دنفوسو نړیوال صندوق څرنګه جوړ شو؟
په ۱۹۶۵م .کال کې دنفوسو په اړه دنړیوال کنفرانس د جوړیدو په ترڅ کې د م.م.عمومي اسامبلې له اقتصادي او ټولنیزې شورا وغوښتل چې دملګروملتونو دفرعي ارګانونو په مرسته د نفوسو دپراختیا او په اقتصادي ودې پورې اړوند مسایل مطالعه او وڅیړي. په دې برخه کې لومړنی اقدام (دنفوسو د چارو د تنظیم په اړه د ملګرو ملتونو د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مرستي صندوق) جوړول و، چې په ۱۹۶۷م. کال کې د عمومی منشي له خوا جوړ شو. په ۱۹۶۹م .کال کې د عمومي منشي له خوا د دغه صندوق چارې د ملګرو ملتونو د بیارغاوني پروګرام مشر ته وسپارل شوې او (The UN / Population Activities Fund دنفوسو د فعالیتونو لپاره د ملګرو ملتونو صندوق) په نوم ونومول شو، خو د ۱۹۷۲م . کال د ډسمبر په ۱۸ مه عمومي اسامبلي د صندوق چارې په خپله غاړه واخیستې او د (ملګرو ملتونو د بیارغوني دپروګرام شورا) یې د صندوق د اداره کوونکي رکن په توګه وټاکل شو. په پای کې عمومي اسامبلي په ۱۹۸۷م .کال کې نوموړی صندوق د (ملګرو ملتونو د نفوسو صندوقUNFPA) په نوم د خپل فرعي رکن په توګه ومانه. ۱۷۹ هیوادو، او له هغې جملې افغانستان د دغه صندوق غړیتوب ترلاسه کړ.
په کم وخت کې دغه صندوق د نړۍ څلورو سیمو کې دفترونه فعال او دغه حوزې ورته وټاکل شوې: عربی هیوادونه او اروپا، آسیا او آرام سمندر، لاتینه امریکاو د کارابین حوزه او افریقا.
اقتصادي او ټولنیزې شورا په ۱۹۷۳م .کال کې د ملګرو ملتونو د نفوسو صندوق دندې په لاندې توګه وټاکلې:

۱. دنفوسو او کورنۍ په برخه کې په ملي، سیمه ییزه او نړیواله کچه د اړتیاوو پوره کولو په موخه د لازم میکانیزم رامنځته کول.
۲. په ملي او نړیواله کچه د ټولنیزو او اقتصادي اړتیاوو، د چاپیریال ساتنې او په نفوسو پورې اړونده مسایلو په اړه عامه پوهاوی.
۳. د مور او ماشوم روغتیا اوله هغو هیوادونو سره مرسته چې د نفوسو په برخه کې ستونزې لري.
۴. دملګرو ملتونو په سازمان کې د نفوسو په برخه کې د پروګرامونو د پلي کولو رهبري.
دغه صندوق تراوسه دنفوسو او پرمخیا سره سروکار درلود چې خلکو ته د لومړنیو خدماتو چمتو کولو، روغتیا(په تېره دموراوماشوم صحت)، ښوونه اوروزنه او پرمختیایی هیوادو سره یې د دوی د دیموګرافییکی مسایلو په اړه ګډ کار کړی دی.

## افغانستان او د وګړشمېرنې اړتیا او فرصت:

اوس وروسته تر شلو کلونو خونړیو کورنیو جنګونو یو فرصت برابر شوی دی چې د هیواد ټول نفوس وشمیرل شي. دنفوسو په اړه د کره معلوماتو لرلو څخه پرته نه دولتی اداری لازم پلان او برنامه جوړولای شي او نه هم په آسانه نړیوال موسسات مرستو ته چمتو کیږی. موږ څو ته یو؟ زموږ لپاره یوه مهمه پوښتنه ده چې په دې سره مو ډیر مسایل حل کیږي. البته دې برخه کې د جنګ د درېدو ترڅنګ د احصایئې د مرکزی اداري موجود ظرفیت، د ولس علاقمندي او د تجربه لرونکو متخصصینو شتون لازم فرصتونه دي. په دې برخه کې له دغو ښاغلو او منلو متخصصیناو تجربه لرونکو علمی کادرونو څخه هیله کیږي چې دې برخه کې د احصائیي مرکزی اداري او نورو ادارو سره یو ځای لاز م ګامونه اوچت کړي: محترم داکتر صاحب نور احمد خالدی(برزین ښار، آسترلیا) چې لومړنی وګړشمیرنه کې د تحلیل او ارزوني مدیرو،پوهنوال دوکتورمحمد طاهر عنایت(دکابل پوهنتون پخوانی رئیس) چې د دیموګرافی چاروکې دوه دوکتورا اود وګړشمیرنې د ساحو تجربه لري( المان- فعلاً جلال اباد کې)، ښاغلی ملګری صاحب چې پخوا د احصائیې د اداري د کمپیوتر مدیر و، د شمیرلو ساحوی مدیر ښاغلی محمد صدیق وفا( اوس هالند کې)، عبدالله سلطانی د نشراتو پخوانی مدیر(سدنی)، استاد غلام محی الدین شهباز د مرکزي احصائیې پخوانی وزیر او ددیمو ګرافی د مضمون استاد (اوس د آسترلیا په ملبورن کې) او جناب آصفی چې د تبلیغاتو آمرو. دوی کولای شي بیلابیلو برخو کې د مشاور او لارښود په توګه دغې ملی پروسې سره همکار شي. دافغانستان د مرکزی احصائیې مسلکی او ماهرکارکوونکی، په تیره ځوان روزل شوي دکمپیوټر او بایومتری او نورو تخنیکی برخو ځوان او انرژی لرونکی کار کوونکي او داقتصاد دپوهنځیو نوي فارغان دا هیله رابخښي چې د نفوسونړیوال صندوق اړ افغانستان سره مرسته وکړي او دغه مهمه ملی پروژه په بریالیتوب د دوه یا درې کلونو په بهیر کې سرته ورسوو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ